

**لیکونکی :** تام ګالاګر (Tom Gallagher) .

**منبع او خپریدو نیټه :** کمان ډریم « 17-07-2020» .

**ژباړونکی :** پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .

----------------------[77]----------------------------

# له افغانستان اوله جرمنی څخه دسرتیرو ایستل اوس هم یوه ښه نظر دي

## *withdrawing troops from Afghanistan and Germany is still a good idea*

*هرهغه څوک چې دامریکي اقتصا د ، زمونږ د نسل پراړیکي ،دانرژی پر تولید اودترانسپورت دبدلون او دهغو تنظیمولو ته جدی هیلی ولری نو په پای کی پوهیږی چې دا ټولو پورتنی هیلی څه داقتصا د په ډګر کی او څه په نړی کی زمونږ پر نقش باندي له هر څه نه مخکی دبی وسلو کولو اړتیا لید ل کیږي*

***Anyone entertaining serious hopes for significant reordering of the American economy, of our race relations, of energy production and transportation, eventually realizes that all of this will require a simultaneous demilitarization of both our economy and our role in the world***

*د لته شا ید چی اصلی ټکی(مسلی) ته هم ورسیږي ، ترهغه چي له ا فغا نستا ن اوله ا لما ن څخه د متحده ایالاتو سرتیری د با ندی شی یا وویستل شی ، نو په دی برخه کی جمهوررییس **دونالد ترامپ** حق په جا نب دی چی غواړی دامریکی ځواکونه له هغوهیوادونو څخه با سی ، اما دلته غلطی دسنا دوسله والو خد ما تو په کمیټه کي دي ، ترهغه ځا یه چي دغه اشتباه یا غلطي د مجلس د د موکراتوغړو په پرتله په جمهوری غوښتونکو ډلوکی زیات*

*دي . نو په دی وجه ما هغه څه چي وويل هغه دادي چي ټاکنی په مطلق ډول باید زمونږ د ټولو بیړنی غوښتنه وي ، کوم چي شا ید دا داولسمشری د ټا کنوڅخه پرته بل هیڅ نه وی اویا شا ید چي بل هیڅ شی پرته له دي ټاکنو څخه برتری یا ارجیحت ونه لري. د تبلیغا تو په تودخه یا ګرما ګرمی کي د مخا لفو یا داپوزیسیون سره په کړکیچینی او جنجا لی پوښتنو با ندي سره جوړجاړی ته رسیدل کیدای شی چی یو ډول سیا سی خیا نت په نظر وښکاری زه تمه لرم چي دمخه داسی خلک شتون لری چي یی لوستل درولی یا بند کړی ترهغه چي ځنو ممکن حتی دا مقاله د (عینی فاشیست = objectively fascist ) په توګه په پام کی ونیسی کوم چی دسړی لخوا وړاندیز شوی اوله هرهغه څه څخه ملاتړ وکړی چي ډیر ځله غلط او خورا ژور وي . خو دنه ختمیدونکی جګړي پای ته رسیدل زمونږ لپاره خورا مهم خبره ده ، چي مونږ وشوکړي له هغه څخه لاس واخلو یعنی چی جګړه ودروو اوږدامهمه نه ده چي مونږ په کوم ځانګړي هیواد کي دمتحد ینو سره څومره نا خوښ یوو.*



**په سمد ستي توګه مسلې د ترمپ پلانونه دي چې په افغانستان کې پاتې 8،600 امریکایی سرتیري او په جرمني کې زموږ د 34،500 سرتیرو څخه 9،500 وبا سي. (عکس: د متحده ایالاتو اردو / فلکر / سي سي)**

*په سمد ستي توګه مسلې د ترمپ پلانونه دي چې په افغانستان کې پاتې(8600) امریکایی سرتیري اوپه جرمني کې زموږ د(34500) سرتیرو څخه(9500) سرتیری وبا سي. د وسله والو خد ما تو کمیټې د ملي دفاع واک ورکولو قا نون کې تعد یل سره دواړه حرکتونه بندولو*

لپاره رایې ورکړې ، اوسمها ل د مقننه پروسې له لارې خپلې چا رې پرمخ وړي ، د دې اړتیا و سره چې د داسې وتلو د مخه مختلف شرایط پوره کیدی شي . او تر هغه ځا یه چې د کمیټې غړي لاړل ، دا چندان نږدې پوښتنې نه وی .

دا فغا نستا ن په اړوند وړاندې کړ شوی اصلاحیه سند(مصوبه) د (45) او (11) رایو ترمینځ تصویب شو ، کوم چې د مجلس (23) او(3) د موکراتو غړو دی سند ته رای ورکړ اما د سنا دوسله وال کمیټې د موکراتو غړو دا لما ن په اړه مصوبې ته (47) او(7) رای دتصویب لپا ره سره دیو منفی رای هغه هم دکلفورنیل داستاذی **رو خانا()** اود یو مثبت رای په ورکولو سره تصویب شو بی ویلو دی پا تی نشي چې حتی د جمهوری ریا ست ته له اخری تازه کارونوما ندویوه کا ند ید ښاغلی **تولسی گابارد**(Tulsi Gabbard) دجنګ ضد مفکوری د څیښتن پواسطه سره دغه مصوبه ته هم مثبت رای ورکړ – **سیت مولتون** (Seth Moulton) له **ماساچوست** څخه دموکرات وکیل د(ضعیف معاملی) څخه په شکایت سره وویل چی متحده ایالات کولا شی په هغه صورت کی چی له دی هیواد څخه ووځی نو روسته له (19) کالو جنګ څخه هغه څه چي تر لاسه کړي شکایت وکړ او هغه داچي ممکن متحده ایالات په راتلونکي (20) کلونو کی دا ډول ښه ګنی ته بهبود وبخښی بل هغه وتلی لیکوال اوجمهوری خواه استاذي آغلی **لیز چینی** د جمهور ریس بوش پخوانی مرستیال **دیک چینی** لور هغه کس چی ددی ځوان یوویشتم پیړی یو له وتلی جګړه غوښتونکی کس څخه دی غواړی چی له افغانستان څخه امریکایی سرتیری ونه وځي !

داسې خبری او کونګسي شتون لري ،چي د متحده ایالاتو لوړپوړی قوما ند ا نا نود سپینې ما نی دپریکړي څخه ملا تړکوي اوپه دي موافق دي چي دنومبر میاشتی دپاکنوڅخه دمخه په ا فغا نستا ن کي دي(4000) سرتیری پریږدي یعنی دشمیره له نظره همغه شمیر سرتیری چی د **(بارک اوباما)** له سپینی ما نی څخه د وتلو لا د مخه کا ملاً وتلو ته راضی کړی وه البته هغه مسله کوم چي دننی بحث څخه حذ ف شوی دي .

مسله په هره بڼه چي مخ ته ځی ، مونږ کولای شو چي لږ تر لږه خپل ځا نته تسل ورکړو سره له دي چي په کنګره کي د ضد جنګ جګړی د هڅی اودحرکا تونښی اونښانی ترسترګو کیږي ، چی دوی په اصطلاح سره هغه نه (9 ) کسان دی چی دمجلس د وسله والو کمیټی ژبې یا قول با ندي ودریږي.ترڅو چي له ا فغا نستا ن څخه د سرتیرو ایستل محدود کړي کله چي مصوبه دپوره رای ورکوڅخه لادمخه جرګی ته محول شی چي دغه (۹) دموکراتو سنا توران هریو [ **ایلان عمر** « Ilan Omer » د مینوی سوتا استا ذی ، **آیا نا پریسلي** «Ayanna Pressley» د ماسا چوست استا ذي ،**مارک پوکال** «Mark Pocal» دواشنګټن

استاذي ، **راشیده طلایب** «Rashida Tlaib» د ماشیګن استاذي ، **جیم مکګوبرن** « Jim McGovern» دماساچوست استاذی ، **با ربارا لی** « Barbara Lee» د کلفورنیا استا ذی **پرامیلا جیا پال**«Pramila Jayapal»دواشنګټن استا ذی دي، کوم چې په راتلونکي اونـې کي نوموړی مصوبی ته به رای ورکړي ؟ او همد ارنګه د راتلونکی جنګ ته لا د داخلید و د مخه دکا نګرس پواسطه سره د تصویب اړتیا به هم مشخص کړي .په هرصورت داڅرګند شوی اودا لږ تر لږه یو منا سب شرط ښکاری چې دځواکونو ایستلو محدودیت به ژوندی یا پخپل حا ل پا تي شي ، مونږ باید په راتلونکو څو میاشتو کي ددي ډول راتلونکې عجیب وغریب و ضیعت لپاره چمتو اوسو ، او بیا په ځا نګړي توګه که **(جو با ید ن)** د بهرنـی سیا ست په اړه خبری وکړي .

هغه کسا نو کوم چې له ا لما ن څخه دامریکي سرتیرو دوتلو سره مخا لف دی د نورو لږ پا ملرنه ځا نته را جلبوي او حتـي چې له ډیر زیا ت حما یت اوپلوي څخه هم برخورداره کیږی اوداځکه چې سنا توران لا د مخه په موضوع با ندي وارد شوی دي. سنا تورانو لکه **میت رومني**«Mitt Romney» جمهوریخواه (UT) ، **لیند سی ګراهام** « Lindsey Graham» جمهوریخواه (NH) ، **مارکوروبیو** « Marco Rubio» جمهوریخواه (FL) ، **کریستوفرکونز**«Chriatopher Coons» دیموکرات (DE) ، **تیم کا یین** «**Tim Kaine**» دموکرات (VA) او **ژان شاهین** « Jeane Shaheen» دموکرات (NH) په اصطلاح سره دلته دکور په د ننه کی ملا تړ کوي ، په لمړی سر کي داعجیب ښکاري چې کا نګرس به دافغانستان په پرتله په المان کي دسرتیرو په ساتلو کي ډیر هوډمن وی ،مګر بیا په جرمنی کی د سرتیری ژوند د امریکایی ژوند یوه برخه ګرځید لي دي دا یود پام وړ بشپړ حقیقت دی چې د اولسمشری په دی ټاکنو کي به دهغو رای ورکونکې رای شا مل وی ، کله که مونږپه ا فغا نستا ن کي جګړه نه کوله ، یا کله چې مونږ په ا فغا نستا ن کي جګړه نه درلود هیڅکله ژوندی نه وه ، مګر د ددی حقیقت سره پرتله کول څه وي چې داوسنی امریکا یی فیصدی نفوس هیڅکله داسی وخت نه پیژنـی کله چې امریکا یی عسکرو په ا لمان کـی ځای پر ځای نه وي .

په هرصورت دغه جهت ګیری یا پلو نیونه یواځې د یوی لسیزي په تیرید وسره د تا یید وړګرځید لي یا تا یید شوی یعنی همغه تکراری پیژندل شوی روسی دښمن کوم چې اوس دایدیولوژی داندازی یا د شد ت له کبله کمرنګه شوی دي او البته دامریکي (75) کلنه بهرنـی سیا ست د نړیوا ل د لږ لید له مخی همغسی کنګل شوی پا تي دي – د یرغلګر جرمنـی په ما تولو کي د متحده ایالاتو د نه منلو وړ اومهم رول په یاد کي واشنګټن په دی باور دی

*چې امریکې کولی شی دا کار وکړي اوپه بریا لیتوب سره یې زمونږ د نړۍ په ګو ټ ګوټ کې خپل سیا ست پلی کړي اویا خپل اراده په نړۍ کې تحمیل کړي دکوریا – ویتنام تجربې بیا تر ا فغا نستا ن اوعراق پورې غزول .*

***هرڅوک چې د امریکا اقتصاد ، زموږ د نسل اړیکې ، د انرژي تولید او ترانسپورت د پام وړ تنظیم لپاره جدي هیلې لري ، په نها یت کې پدې پوهیږي چې دا ټول به زموږ داقتصاد او په نړۍ کې زموږ د یوځل بیا بې وسلې کولو ته اړتیا ولري. او واقعیا ډیر وخت شتون نلري چې په دې کوم محاذونو ضایع کړي حتی که دا ممکن په یو څه د ډونا لډ ټرمپ سره موافقې ته اړتیا ولري.***

**-------------------------------------- په سلامونو «19-07-2020»**